هفته نامه

د جهاد هنداره

لومړي كال ، (۱۱) گڼه ، ۱۳٦۹هـ ش د قوس (۷)

داسلام سرتيرو لښكرو:
دبگرام په هوايي ډگر كې (۸) الوتكې ويجاړې كړې

دنوامبر ۲۵ نواي وقت:

مجاهدينو دكابل دبگرام په هوايي اډه ديوې حملې په ترڅ كې اته الوتكې له منځه وړي دي مجاهدينودخپل يرغلونو په لړ كې دښمن ته دسراومال درانه زيانونه اړولي دي او زياتې پوستې يې

په (۸) مخ كې

مليشاى رژيم كابل برمال

په (۸) مخ كې

وناموس مردم تجاوز مي كنند

PROPERTY OF ACKU

مولوي محمد يونس خالص له امريكا غږ سره په مركه كې

نجيب په افغانستان كې خپل حيثيت دومره بايللي دئ چې هيڅوك ورسره نږدې كيدوته زړه نشي ښه كولى

په (۳)مخ كې

مجاهدين دوغند رژيم رادرغزني فتح نمودند

مجاهدين قهرمان دريك عمليات موفقانه برق اسادرغزنى دوغندرژيم كابل راباتمام وسايل وتجهيزات نظامى وپرسونل ان متصرف شده وساحه وسيع راازتسلط رژيم كابل ازادساختند .

يك منبع دفتر مركزى شوراى قوماندانان جهادى افغان واقع پشاورضمن ابرازمطلب فوق به نقل ازگزارش مجاهدين غزنى افزوده است . غند (۱۸٤) دربخش گنج درشمال شهر غزنى موقعيت داشت وازطريق پوسته هاازمنطقه واقع ساحه ميدان هوايى كه درغرب شهر غزنى موقعيت داردوغند (۱۸۳)كه

په (۸) مخ كې

مجاهدينو په كشمير كې ددوگره شاهي دنبوله منځه ورلوړيكړه وكړه

سرينگر: دنيول شوى جمو اوكشمير دآزادۍ دلارى تورياليو دجمو اوكشمير «حزب المجاهدين» گوند تولو مجاهدو قوماندانانو يوه پته غونډه په سرينگر كې وكړه چې په هغو كې يې دهندى پوځونو دظلم اوتيرى پرخلاف پر وسله واله مبارزه زورواچاوه اودټولو گوندونو ديوالى اويوه گډ دريځ اومورچل دنيولو په لاروچارويې بحث وكړ ، ددغه غونډې رياست سترقوماندان احسن ډار په غاړه ؤ ،په دې غونډه كې

په (۸) مخ كې

ضربات كوبنده برقواى رژيم درقندهار

په (۸) مخ كې

روسها ازبه ميان آمدن يك حكومت اسلامي درافغانستان هراس دارند

روسيه با حل مناقشات منطقوي علاقمند است اما ازمداخله درامورديگران دست بردارنيست .

اين مطلب راروبن ستاين استاد پوهنتون پنسلوانيا دركنفرانس دوروزه كه درپوهنتون «ويلي نوواي «پنسلوانيا بخاطر بحث برمشكلات داخلي وخارجي كشورهاي جنوب اسيا داير گرديده بودابرازداشت.

موصوف ازمقاله خود كه تحت عنوان «پاليسي اتيه روسيه درافغانستان» نوشته بود اضافه نمودكه روسيه ديگر علاقمند

درصفحه « ۲ »

واشنگتن يا وژنتون

په (۸) مخ كې

درشيد دوستم دمليشه ولي قوماندان له (۳۲) تنو ملگروسره په پښمان گي مجاهدينو ته تسليم شول

په (۸) مخ كې

ايا امريكا اواسرائيل اتومي بم جوړولى شي ؟!

ترپورتني عنوان لاندى دجنگ ورځپاڼى په يوه وروستۍ گڼه كې دايم طفيل يو مضمون خپورشوى او په لومړۍ سركى يې دليبيا دمشر«قذافى »ديوى مركى دغه پوښتنې ته چې ايا امريكا اواسرائيل اتومي بم جوړولى شي ؟! اشاره كړى موردډغه مضمون عمده ټكي په ځو كربنوكې خپلو لوستوالو ته وړاندې كوو .

دقذافى له شخصيت نه به

په (۳) مخ كې

كه په خليج جگړه پيل شي پراخې سيمې به په لمبوكې راونغاړي

په پاكستان كې دخليج دهيوادونو يوه اضطراري غونډه جوړه شويده په دې غونډه كې دخليج دبحران په اړه غوركوي ويل شويدي چې كه په خليج كې جگړه ونښلي دغه جگړه به دانساني تاريخ ترټولوستره ورانوونكي اووژونكي وي هيله ده دغه غونډه دري ورځې دوام وكړي.

نجيب ... دروس اوامريكا ممكن توافق

په (۲)مخ كې

سرمقاله

دهماهنگو سرتاسري عملياتو ترڅنگ گډې سياسي جبهې ته ضرورت

پدې وروستيووروځوكې زمونږ دقهرمان ولس دجهاد قضيه يوځل بياپه نړيوالو ډله ايزو خبري وسايلو كې داسې توده بدرگه شوه چې دخليج بحران او دسيمې او نړۍ نوري ټولې پيښې او قضيې يې تر شعاع لاندې راوستلې .

چترال ته نږدې دجهادي قوماندانانو دريمه غونډه او په هغې كې دملت دبرخليك په باب مهمې پريكړې دجهاد دقيادتونو وروستي مثبت حركتونه اودډيروالي او اتحاد په لور چټك گامونه او بالاخره پر كابل او نور ټول

دټولې نړۍ پر مسلمانانو لازمه ده چې له اسلامي خاورې نه ددفاع لپاره راپورته شي او پر اسلامي خاوره دظالمانو دتجاوزاوورزياتي مخنيوى وكړي

الحاج حقاني

د جهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : (۱۳۶۹) هجري شمسي

نجیب ... د روس او امریکا ممکن توافق

عبدالله

نجیب په افغاني کمونستانوکي ترټولودکرغیړني څیري څښتن دي، دده دنوم په اوریدلو سره دخاد دوحشي دستګاه شکنجه ځایونه ، جیلونه ، اعدامونو... دهرافغان په سترګو کي مجسم کیږي . ده دروسانو په نوکري کي له هیڅ ډول ظلم ، تروراووحشت څخه ډډه ونه کړه . په سلهاوزره مسلمان افغانان یې دمسلماني په جرم ونیول ، توقیف یې کړل ، په شپو اوورځو یې شکنجه کړل ، بیا یې دپلچرخي زندان ته ولیږل اوپه زرهاو معصوم مسلمانان یې دتوروشپو په زړه کي دپولیګون په خوابوتلل اوپه دسته جمعي ډول یې اعدام کړل ، دپلچرخي دبلاکونوصاحب منصبانواوقوماندانانو به داعدام کولو په عملیاتوکي په برخه اخیستلو سره تقدیر کیدل اوفوق العاده رتبې به ورکول کیدلي .

افغانان به څنګه هغه شیبې هیري کړي چي په عدام محکوم کسان به ورروسته له هغه چي په ګولیوویشتل کیدل دنجیب دمؤظف شوي هیأت له خوایوه یوه ګولي دهغوي پرتندي فیر کیدله ولي هسي نه چي کوم یومسلمان دډزو په وخت ژوندي پاتي شوي نه وي . دانسانانو وژل اوځورول دنجیب ددستګاه دساديستو کارکوونکو یوه په زړه پوري اودلذت نه ډکه تفریح شمیرل کیدله . لکه څنګه چي خلقي اوپرچمي ګوډاګیان پر مسلمانو افغانانو باندي ظالمان ووپه هماغه تناسب یې دروسانو په مقابل کي دغلامانو په څیردبې ارادي موجوداتو حیثیت درلود ، دوي که هرڅه دمارکسیزم ، کارګري انقلاب ، زیارکښانواو... شعارونه ورکول خو ددوي خبري ،عقیده او هرڅه تقلیدي اودوي پخپله دبیزوګانو په شان دروسانو داعمالو کاپي کوونکي وو،روسانو به چي هرڅه کول ددوي وظیفه اوکمال صرف داؤ چي هغه دافغان بیچاره ملت ته توجیه کړي .

کله چي ګورباچوف دکرملین دحاکمیت پر مسند کیښناست ورو ،وروبي خپل (اصلاحي) پروګرام «پروستروېکا» باندي عمل کول پیل کړل ده په دي باندي اعتراف وکړچي کمونیستي اقتصادي پروګرام نوردروسیې ملاورماته کړي ده اودنجات لارصرف دآزادبازاراقتصاددي ، ده ولیدل چي مارکسیزم نوریوه ماته خوړلي اوپه تیره زمانه پوري اړونده نظریه ده ، دانظریه دبیلابیلوملکونو دپیوند توان نورنلري اوپه زوراوتشددسره نوردروسیې داقمارروساتل روسانوته ګران کاردي نوشرقي اروپایي غربیانوته وروسپارله ، په دي ترتیب دروسانواوامریکایانودکلونوکلونو دښمني په دوستي بدله شوه ، ان تردي چي روسانودخلیج په کړکیچ کي دخپل پخواني دوست (صدام) پرضدامریکایانو پوره ملاتړوکړ اوامریکا یانو هم دروسانوددوستي دپاللو دپاره ګورباچوف ته دسولي دنوبل جایزه ورکړه. په همدي ترتیب افغاني کمونیستان هم دخپل پخواني خصلت اوعادت پربنا دپروستروېکا پیروان شول اوهغه امریکا چي څه موده مخکي به یې دځمکي اواسمان په ګناه نیوله اوس یې په دوستانه الفاظو سره په افغانستان کي داسلامي بنیادګرایي خطر ته متوجه کوي اواسلام خپل اودامریکا ګډ دښمن معرفي کوي . امریکایانواوپه مجموع کي غربیانودګورباچوف دنوي سیاست سره ډیره علاقه نیولي ،ګرباچوف اودهغه سیاست دځان دارامۍ عامل ګڼي اودروسانو سره ګډ داسلامي نړیوال قوت دمینځته راتلو دمخنیوي په لته کي دي .

نودامکان نه لیري خبرنه ده چي

دوهمه برخه

اوله کوم سخت عمل سره مخامخ شی په دی به دامریکااو روس ترمنځ اړیکو ته زیان ورسیږی -خوکله چی همدغسی دخپلواکی غوښتنی غورځنګ په آذربایجان کی پیل شو نه یوازی امریکاورباندی چوپه خوله وه بلکی روسی پوځونو دغه غورځنګ اوآزادی ناره دټانکونو ترچینو نو لاندی لتاړکړه اوپه زرګونو تنه مسلمانان دروسی پوځونو په لاس شهیدان شول.

دافغانستان دمسئلی په رابطه دامریکا وضع هغه وخت سره شوه چی کله یې له روس سره دزیاتواختلافونو پر سر توافق راغی اودهغی په نتیجه کی دروس اوامریکا زیات اختلافونه حل شول. څکه نواوس هغوی داسلام اومسلمانانو پرخلاف سره متحد دی اوهمدغه یووالی دافغانستان دربړی نه

دافغانستان ربړه اودپاکستان اوروس ګډ قرارداد

هراری سترسبب دی - چي جوړیري هغه باید امریکا له یودبل ضد ولو په افغانی مجاهدینو سره موجودیت کي باید مرستی هم بند ی کړی سیاسي ثبات ونه لري دی اوکله چی په اوافغانستان باید افغانستان کی دپراخ همداسي له یوه دایمي بنستیزحکومت خبره کشمکش اواړودوړسره کیري نوله هغي مطلب مخامخ وي . دادي چي پدي حکومت دافغانستان اوسني کي دکابل ګوډاګي رژیم مزدورواکداران په نماینده ضرورباید راتلونکي اقتدارکي حضوررولري ترڅوبو شریکول دامعني لري چي سوچه اسلامي نظام مجاهدینو داټولي قربانۍ جوړنښي اوکوم حکومت یوازي داقتداردچوکۍ

دلاسته راوړلو لپاره ورکړي وي .مجاهدین داسي پراخ بنسته حکومت جوړولو ته هیڅکله هم نه دي تیاراوداسي حکومت جوړیدلو ته تیاریدل ددي معني لري چي دهغوي ټولي قربانۍ خوشي تللي دي هغوي په افغانستان کي دعبوري حکومت له جوړیدو اوعاموانتخاباتو سره توافق کولاي شي څکه پخپله یې هم په آزادو سیمو کي دانتخاباتو کول ترنظرلاندي دي داخبره په خپل ځاي سل په سلو کي سمه ده چي دافغانستان دربړي دحل لپاره داضروري ده چي دافغانستان اسلامي

روسها ازبه میان امدن یک حکومت اسلامي ...

مداخله درحصص مختلف جهان نبوده بلکه درعوض میخواهد کشورهاي همسایه مانندافغانستان ایران وترکیه راازطریق افزایش روابط تجارتي تحت تاثیرخویش قراردهد .

روسیه به کشورکوچك افغانستان که درانجا هنوزجنگ جریان دارد سالانه درحدود سه صدملیارددالر بمصرف میرساند که یك وجهه قابل توجه میباشد .هدف این کمك پولي اینست تا رژیم دست نشانده خودرادربرابرمجاهدین تقویه نموده بقاي آنراتضمین نماید.

هدف کمك روسیه به رژیم نجیب نه صرف آنست تا نشان دهد که روسیه دوستان خویش را تنها درمیدان نمي گذارد بلکه منظوراین کمك ها چانه زدن با امریکا درارتباط به منابع طبیعي وپاکستان دررابطه به صلح افغانستان نیز میباشد .

روبن ستاین گفت طي بیست وپنج سال گذشته وبخصوص دردهه گذشته روابط اقتصادي وتجارتي روسیه با افغانستان افزایش یافت ودرین اواخرتلاش نمود تاازطریق جمهوري هاي اسیاي میانه به افغانستان خط آهن تمدید نماید .

روس ها شهراه سالنګ رابه جهتي اعمارنمودند که هم تانکهاي خویشراازان عبوردهند وهم منافع اقتصادي بدست اورند.

ستاین علاوه نمود : جنګ طولاني بنیاداقتصادافغانستان راویران نموده ورژیم کابل ناګذیر است تا روابط خودرا با روسیه بیش ازپیش افزایش دهد .

ستاین بجواب پرسش یکي ازاشتراك کنندګان کنفرانس ګفته است که وزارت انرژي امریکا افغانستان کتابي رابه نشرسپرده ودران امده است که افغانستان همردیف با ایران دخایر نفتي داردهمچنان معدن مس عینك لوګر بزرګترین معدن دنیا میباشد که روس میتوانند از معدن مذکوریورانیوم نیز استحصال نمایند

معدن بسیاربزرګ آهن درحاجیګك واقع بوده ودها معدن دیګر نیز درافغانستان موجودمیباشد علاوتاً ګازطبیعي راروسها ازافغانستان به قیمت بسیارنازل به روسیه انتقال میدهند که میترهاي اندازه ګیري آن نیزدرداخل روسیه میباشد .

روبن ستاین افزود: علایق امریکا با افغانستان بعد ازاشغال آنکشورتوسط روسها افزایش یافت وبراي مجاهدین کمکهاي نظامي اعطاً نمود .

وي ګفته است هدف اساسي همکاري امریکا با مجاهدین این بود تاازروسیه انتقام ضرباتي راکه روسیه درویتنام برامریکا وارد کرده بود بګیرد .

دراخیر روبن ستاین استاد پوهنتون پنسلوانیا نتیجه ګیري مي کند تا هنګامیکه نجیب درکابل برقدرت وشهراه سالنګ وبعضي حصص شمال افغانستان رادرکنترول داشته باشد روسها همچنان ازوي حمایت خواهند کرد . درصورتیکه مجاهدین متحد نګردند نفاق قومي ومحلي افزایش یافته زمینه رابه رژیم کابل مساعد خواهد ساخت تا بادادن رشوه وتطمیع،نفاق راافزایش داده به تدریج مقاومت را تضعیف نماید .

بقول موصوف روسها بیشتر ازانچه که اکنون بخاطربرقدرت نګهداشتن نجیب انجام میدهند کاردیګري راکرده نمیتوانند وآنچه که روسها بیشترازان درهراس اند بمیان آمدن یك حکومت بنیادګرادرافغانستان میباشد

دنجیب اوکفري ځواکونوګډې هڅې

شیر محمد

له هغه وخت نه چي روسان په افغانستان کي دمجاهدینو دپیدریغه سرښندونواومقاومت په نتیجه کي له شرمه ډکي ماتي سره مخامخ شول اودافغانستان له خاوري څخه په تیټ سروتلوته مجبورشول ، امریکي ته داثابته شوه چي دافغانستان ویاړلي مسلمان ولس پدي توانیدلي شي چي دروس مزدوراولاس کینولي رژیم هم په ډیره لږه موده کي رانسکورکړي او پرځاي یې یو اسلامي دولت چي دکفري طاقتونو لپاره به دسترګو ازغي وي ، جوړکړي.

دروسانوله ماتي وروسته امریکي اونوروکفري طاقتونو داسي هلي ځلي پیل کړي چي غوښتل یې دافغانستان دمسلمان اوپتمن ولس لس کلن جهادپه تپه ودروي مګر پدي بریالي نه شول نودداسي لاروچارو په لټه کي شول چي

دنجیب ګوډاګي رژیم ته ددي توان ورکړي چي دمجاهدینو په مقابل کي مقاومت وکولي شي .

هو ! دایواځي روسیه نه بلکي

دافغانستان دمسئلي په حل کي خنډ ، نړیوالو ته داسي توجیه کیږي چي ګواکي مجاهدین په کومه طرحه توافق نشي سره کولاي اوسربیره پردي دنظامي لحاظ دنجیب قوت په دي اندازه دي چي دځان دساتلو استعدادلري

دامریکي اونوروکفري قوتونو ګډې هڅي وي چي نجیب یې دمجاهدینو دبریدونو په مقابل کي تقویه کړ. امریکي اونوروکفري ځواکونو خو دکمونیزم دوحشي نظام له پنجو څخه دځان دژغورني اوخلاصون لپاره دمجاهدینو پلوي کوله او وسلي یې ورته رسولي .کله چي کمونیزم دافغانستان دجهادله برکته

دړي وړي شو اوس هڅو ددي سوال ته پیداکیږي چي دوي دي دمجاهدینو ملاتړوکړي ځکه چي دي زبرځواکونو اوکفري طاقتونو ته

په افغانستان کي داسلامي دولت درامنځ ته کیدو په پرتله دنجیب ګوډاګي رژیم دمنلو وړدي داوله هڅه کوي چي دافغانستان راتلونکي مشرتابه ددوي په خوښه اورضا سره وټاکل شي اوددوي دخوښي سره سم یو حکومت جوړشي . همدا وجه وه چي دجهادي ځواکونو اوتنظیمونو

ترمنځ اختلافاتوته لمن ووهله شوه اوپدي توګه یې دنجیب دررژیم پاي ته رسیدلي عمرتریوي مودي پوري دپایښت اوبقا پولي ته ورساوه .

چي څنګه دکفري ځواکونو خوښه وه هماغسي وشول دمجاهدینو مؤقت اسلامي حکومت له سخت رکود سره مخ شو .

هغه شپږتنظیمونه چي پدي حکومت کي شامل هم ؤ دحکومت دپښو درولو لپاره یې یوګام هم اوچت نکړو او یواځي دوزارتونو په جوړولواوددفترونو په نیولواکتفا وشوه خو دکارونود سرته رسولو زمینه برابره نه شوه .

بې له دوه دري وزارتونو څخه چي ددي حکومت دجوړیدو نه مخکي هم پدي لاره کي یوڅه کارشوي ؤ لکه دښووني اوروزني وزارت ، دعامي روغتیا وزارت او ددعوت اوارشاد وزارت چي ددي وزارتونو

چارې هم په سستۍ سره رواني دي.

داکار مجاهدینو ته اودافغانستان ټولومسلمانو خلکو ته ډیرګران پریوت ځکه په سیاسي اونظامي

ډګرکي دنجیب دلاسپوڅي رژیم په ګټه تمام شو له یوي خوا نجیب ته دپایښت زمینه برابره شوه اوله بلي خوا نړیوالوته داسي څرګنده شوه چي ګویا مجاهدین دنجیب دررژیم دنسکوریدو توان نلري . پدي وخت کي نجیب دنړیوالودغو لوني لپاره دروغي جوړي دنهوري نوري هم تازه کړي اوداسي تبلیغات شروع شول چي دنجیب رژیم دسولي له لاري دربړي حل غواړي .

دکفري ځواکونو ترڅنګ ملګروملتونوهم داسي یوه پریکړه وکړه چي په افغانستان کي دي دنجیب له ملحدي ډلي سره یوځاي انتخابات ترسره شي سره لدي چي داورته څرګنده ده چي دافغانستان دمجاهدولس دولس کلن جهاددهمدغي وطن پلورونکي ډلي په مقابل کي پیل شویدي .

پداسي شرایطو اوحساسو پړاونوکي لازمه بریښیده چي دجهادپه اوسني حالت کي خوځښت اوتحرك رامنځ ته شي هماغه ؤ چي دجهاداتلو اونومیالیو قوماندانانو سرتاسري شورا جوړه کړه اوپدي شوراکي ارزښتناکي اوګټوري

پریکړې وشوي .لدي پریکړوسره سم دجهادي تنظیمونو ترمنځ دیووالي اواتحاد خبري پیل شوي اودافغانستان په جهادکي یې نوي ساه پو کړه .

کفري طاقتونو ته ددي شورا دایریدل اودجهادي تنظیمونو ترمنځ داتحاد خبري دزغملو وړنه وي ځکه ددي پریکړو اواتحاد په عملي کولوکي به ګوډاګي رژیم ضرورنسکوریږي ، نو دکابل رژیم مشرانو ته یې هدایت ورکړ چي له خپلو شیطاني دسیسو څخه کارواخلي . نجیب دجینوا خواته منډه کړه اوداسي یې وښودله چي ګویا ددووجهادي تنظیمونو له مشرانو پوهاند مجددي صاحب اوپیرګیلاني صاحب سره یې کتلي دي اولدي خبرو څخه ډاډمن ښکاري اوهم یې دایران په مشهد کي دحزب وحدت له مشرانو سره خبري اتري کړیدي نجیب پدي شیطاني عمل سره غواړي دمجاهدینو دمشرانو ترمنځ بدګماني پیداکړي .

نو په کار ده چي جهادي ځواکونه ددوي بې بنیاده تبلیغاتو او پروپاګنډونو ته اثر ورنکړي اوپخپلو کي دپخوا په شان دیوقوي ځواك په توګه په ګډه سره دکمونیست رژیم په رانسکوریدو کي هلي ځلي وکړي او دافغانستان دکړیدلو او ځوریدلو خلکو ارمان چي په افغانستان کي داسلامي دولت جوړیدل دي پوره کړي .

ایاامریکا اواسرائیل اتومي بم جوړولی شي ؟!...

تیر شو خو کوم سوال چي هغه مطرح کړی رښتیا هم چي ډیر دغوراودقت وړدی ایا امریکا اواسرائیل

آیا دپاکستان په ګاونډ کي هند په ۱۹۷۳کي اتومي چاودني ازمیلي شي خو پاکستان بیا دخپل هیواد دساتني لپاره داحق نه لري؟

اتومی بم جوړولی شی ؟!

اویقیناً ځواب هوکی دی ! نړیوازی امریکا ، اسرائیل بریتانیا ، فرانسه، چین اوروس ددی حق لری چی اتومی وسلی جوړی کړی نورهیوادونه ددی حق نه لری، آیا د پاکستان په ګاونډکی هند په (۱۹۷۳) کی اتومی چاودنی ازمیلی

شی خو پاکستان بیا دخپل هیواد دساتنی لپاره داحق نه لری ؟

دعراق اتومی بټی داسرئیلو لخوا بمباردیږی اوله منځه وړل کیږی اونوروهیوادونو اوبیا په خاص دول اسلامی هیوادونو ته داسی زمینه باید برابره نشی چی اتومی وسلی جوړی کړی ددی پوښتنو ځواب بیله دی نه بل څه کیدای شی چی دغه هیوادونه باید دامریکا

اونورواتومی وسلو درلودونکو ځواکونو غلامی ته غاړه کیږدی دخپلو سرحدونو اوهیواد دسالمیت ددفاع حق نه لری اوکه دزوراوخپل حق څخه ددفاع خبره ده نړیوازی همدغه یو خو هیوادونه داحق لری .

امریک په زرګونو میله لری دبل هیواد په خیټه کی دپوځی هڅو جوړولو حق لری خو نورهیوادونه بیا دخپل مسلم حق او دخپل هیواد دسالمیت دساتنی حق نه لری داهغه استکباری منطق دی چی ختیځ اولویدیځ ښکیلاك یی په ټوله نړی حاکمول او منل غواړی نوټولی نړی او په خاصه توګه اسلامی نړی او داسلامی غورځنګونو مشران باید سترګی وغړوی دخپل حیثیت نه ددفاع په

سوچ کی شی او دناولو قدرتونو دناولو عزایمو له خطر ناکو نتیجو څخه ځانونه خبر کړی «عبرت واخلی ای دعقل خاوندانو »

نجیب په افغانستان کي...

داسلامي حزب مشرمولوي محمد یونس خالص ویلي دي چي دکابل رژیم مشر نجیب دهیڅ افغاني مشرسره کومه لیدنه کتنه ونکړي شوه اودپخواني پاچا په ګډون ټولو افغانانو ددسره دملاقات کولوڅخه ډډه وکړه .

مولوي محمدیونس خالص دیوي پوښتني په ځواب کي دنجیب دسفرپه هکله وویل:

نجیب په افغانستان کي خپل حیثیت دومره بایللي دي چي بل هرچاته نږدې شي نودهغه موقف هم خرابوي اونه غواړي چي په هغه باندي خلك راټول شي نوځکه کله وایي له مشرانوسره ناست یم ،کله وایي ظاهرشاه سره ناست یم اوکله وایي چي پلاني سره ناست یم پدي توګه غواړي چي دغه خلك هم

ولس ته بدنام کړي .

داسلامي حزب مشرزیاته کړه :

بالکل داخبره ښکاره کړه چي دنجیب سره دکیناستلو امکانات

دپخواني پاچا په شمول ټولوافغانانوله ده سره دلیدلو نه ډډه وکړه

هغه خلك هم چي تراوسه پوري تنظیمونو ورسره په افغانستان اویا بهر کي ارتباط ندي ساتلي دنجیب نه کرکه کوي اوورسره نه کښیني ځکه هغوي هم زمونږورونه دي اوهغوي هم ددغسي مظالمو له لاسه اروپا اونور وملکونوته تللي دي، هغوي هم غیرت لري اوهغوي هم افغانان دي .

مولوي خالص دخبروپه ترڅ کي وویل : سیدقاسم رشتیا چي یو مطبوعاتي شخصیت دي هغه

نشته تراوسه نه دظاهرشاه اونه خو دهغه ملګرو له هغه سره لیدلي دي نجیب صرف ددي لپاره چي فضا خړه پړه کړي اویوډبل بې اعتماده کړي داسي عملونو ته لاس اچوي دنجیب په خبرومونږ چانه بې اعتماده کیږو داټول زمونږ وروڼه دي اومونږدخداي (ج) نه غواړو چي دغه ټول سره یوځاي اویو لاس دیوه اسلامي حکومت دراتلولپاره یودبل پشتوانه شي اوسره ملګري شي .

افزایش اعمال ضد حکومتي درتاجکستان

رئیس سازمان (کی ، جی ، بی) درجمهوری تاجکستان روسیه اعلام نموده است که اعمال ضد حکومتی درآن جمهوری افزایش یافته است .

بقول رادیو بی بی سی وی علاوه نموده این اعمال بخصوص بعد ازخروج عساکر روسی ازافغانستان افزایش یافته است .

موصوف متذکر شده که حوادث بیشترازطریق تاجکستان انکشاف می یابد

جهادي ادب

پيغام مي سرحد نه مني جهان لاندي کوي
تکبير مي پورته خېژي او آسمان لاندې کوي
رالوېږي او نړېږي به جوړ شوي معبودان
قيام مې غزنوي شولو بُتان لاندي کوي

جهادي فولکلور

واني يوه ورځ چې په ملگرو ملتو کې د هيوادو د مشرانو غونډه وه او د هيوادو مشران دغونډې د تالار خواته روان ؤ د سړک په مینځ کې يوه غوا درېدلې وه اودوی نشو کولی چې د تالار خواته تېر شي د ملگرو ملتو ټول پوليس او امنيتي مقاماتو چې هر څومره هلې ځلې وکړې په دې برياله نشول چې غوا د سړک له مينځ څخه لرې کړي د سړک پرسر موټر قطارودرېدل ، امنيتي مقاماتو هري خوا منډې وهلې ، خو د حل لار ئې پيدا نکړه ، آخر برژنف په تنگ شو او دغوا پرلوري حرکت وکړ، غواته يې پټ په غوږ کې وويل: افغانستان ته ځې ؟ ... دهمدې جملې په ويلو سره غوا منډې کړې او لاره خلاصه شوه.

قهرمان شه!

سيدالياس صداقت

توره واخله سربند ونکی دميدان شه !
دغفلت له خوبه پاڅه قهرمان شه!

يوعجيبه امتحان دخدای راغلی
ملا دې وتړه کامياب په امتحان شه!

ما پخپل ننگ او ناموس توره تړلې
څوک چې بد نظر په ما کړي کور يې وران شه

قرباني چې ورکوي اسلام لپاره
آفرين په دغه عزم دافغان شه

چې مؤرخ دې په سرو وينو تاريخ ليکګا
ننگيالي او نوريالي ددې جهان شه

د تکبير ناره چې اوري بېغم نا ست وي
په غضب د خدای د چار هسې ځوانان شه

چې يې سرا ومال په لار د اسلام ايښی
مبارک يې د جنت حورې غلمان شه

چې صفت پکې د ننگ او د غيرت کړي
آفرين د «صداقت» په دابيان شه

باغي انسان ته

شفيقي

زه چې راغلي يم دنيا ته دژوندون لپاره
نو خداي (ج) راکړي زند گي له مانه څه له اخلي !
دژوند ناخوالو ته چې لاس دمرستي نه راکوي
دغه نيمگړي خوشحالي له ما نه څه له اخلي
زه هم انسان يمه زړگي لرمه هيلي لرم
دژوند جذبي مي په ساده زړه کي توپونه وهي
غواړم دخداي (ج) په نعمتونو کړمه سترگي يخي
دښکلا مينه مي په وينه، کي موجونه وهي
انس اوالفت انسانه چيرته درنه وغورځيدو ؟!
چي دخپل ذات په پرزو لو کې سرورلتهوي
لکه په سترگوچي درپريوتي پردی دجهل
ته دذلت پ بيا بانونوکي غرورلتهوی
وينه په وينه باندي مينځي دپاکي په تمه
دبدمرغيو په کوڅو کي سعادت غواړی
ابليس دمخه وريسي يی دگناه په لوري
درسوايی په غولي څنگه شرافت غواړي ؟!
دخداي (ج) پرځمکه دادخداي (ج) بندگان مه ځوروه
گوره چي ستا په کوربه هم کله غوغا گډه شي
لکه عاديان لکه شمو د لکه نمرود اواخدود!
داسي به ستا په ښار اوکلي واويلاگډه شي

لنډۍ

په سړک شني جنډې ځليږي
مجاهد ټول په دين مين ټانکوته غيږي ورکوينه
په دين مين دي
ځکه دکفرمقابلې ته وردانگينه
تودی برستني خوب کړه
په ما پراته دي دټانکونوخره گردونه
ته د
دخليل الرحمن دټانک شرنگاه شوه
په پرچميانو باندې بل شول سره اوروته

راليږونکی: سليم صابر

لنډه کيسه

ناتمامه کيسه

پردیس

زمونږ دوطن دعاموکورونوپه څيريوه جونگړه ده ، بس څلورديوالونه اويوه زړه دلرگو دروازه ،چی په ډيروپوری راپوری کيدو اوس هغې عمرخوړلی ماتی دروازی ته پاتی کيږی چی ځای يی موږيم وی ، په دی دروازه هم ديوعمررنگينی خاطری اوکيسی نقش دی په دواړوچلو يی دېونودچرو داغونه شته اوورو ست لرگی يی يوداسی يادگاردی چی چاته به څه ارځښت لری اوڅوک يی بيا ورپا هم نه اخلی ...

تردروازی دننه يوکوچنوټی سرای اوبيا دری څلوردودهلی خوی اوتوری نيمی روغی نيمی رنگی خونی دی چی کړکۍ يې دافسانوی ديوانودسترگی په څيرهيبتناکی دی ، دغه خونی دانسان په لاس جوړی شوی او دانسان ژوند داوږدی تراژيدی يوه صحنه تمثيلوی ، دلته هم يووخت دغربت اوخوارۍ دپوره زوروزياتی سره

په (۵) مخ کی

غوره خبري

په ټول ژوند کی يو د قيقه هم بی وظيفی او مسئوليته نشته .

د کاميابی زينه د ناکامی له لرگيو څخه جوړه ده

له مرگ څخه مه ويريږی ځکه چی د مرگ سخته او ترږ يخوالی يواځی په ويره کی دی

څوک چی په ځان حاکم نه وی هغه به تل مربی وی .

د هغه چا له شره ځان وساته چی تا ورسره ښيگړه کړی وی .

دولسي ادب په ورانگوکي

دسنگر مينو ورونو سره يوشئ
که ددين حاکميت غواړی سره يوشئ
شا په شا ولی ديو بل نه بی پروا شوئ
خپل تاريخ ته نظر وکړی سره يوشئ
ولي دومره په يو بل پسي بد وايی
تبصرې بی ځايه پريږدي سره يوشئ
ددښمن دتکتيکونوپه فريبو
غلط نشی موتی يوکړی سره يوشئ
يوبل ته دوروری لاسونه ورکړي
فرق ددوست اودښمن وکړې سره يوشئ
که هرڅومره وي اغيار درسره څنگ کي
پردي کله چا خپل کړي سره يوشئ
داچي وايی دا فلاني او دا بستان دی
دا فلاني اوبستان پريږدي سره يوشئ
که دخپل باغ ميوه غواړي چي خوږه وي
راشي خپله خروب کړی سره يوشئ
زه «نورگل » به ستاسو حق کی تل دعا کړم
شي به هله مستجاب چی سره يوشئ

هاشمي

خپل تاتوبی کورکلی اووراني ويجاړې جونگړې ورته دومره گراني وی چی دژوند په ډيرو ستونزورو شرايطواو نامناسبو حالاتو کی يی هم دهغی پر پښودلو ته زړه نه شو ښه کولای.

دنوروودسوکالی ، متمدن ژوند اومادی پرمختگ کيسی يی هم اوريدلی وی خو زړه يی ورته نه پخښيده اوپه غريبی اوبی وسۍ کی يی هم پخپل قناعت ، صبر اواستقامت روحی تسکين حاصل ؤ .

که به يی کرلی فصل داوبو دکمښت له امله لولپه شو اوکه يابه پری کوم سماوی آفت رانازل شو ،ددوی پر خدای (ج) توکل ؤ اوهر څه يی په وړين

په (۵) مخ کی

سارك تقاضای رژیم کابل رارد کرد

تقاضای رژیم دست نشانده مسکو در کابل بخاطر عضویت در سازمان همکاریهای منطقوی جنوب اسیا (سارك) رد گردید .

رادیو بی بی سی ضمن نشراین خبر علاوه نموده است که درخواست ر ژیم دراثر مخالفت پاکستان ردگردید . رژیم کابل قبلاً باحکومت هند که یکی از اعضای مهم (سارك) میباشد درزمینه به موافقه رسیده بود ولی نماینده هند درکنفرانس بادرنظر داشت این خطر که پافشاری بیشترش بخاطر عضویت رژیم کابل مخالفت سایر اعضاً چون بنگله دیش و سریلانکارا برخواهد انگیخت از اصرار خود داری ورزید . کنفرانس کشورهای (سارك) که هفت کشورمنطقه دران عضویت دارند اخیراً در کشورمالدیو به پایان رسید .

پیروزي مجاهدین درهرات

مجاهدین دلیرطی حمله برمیدان هوایی هرات یکی ازپوسته های مهم انرا فتح دوتانك وچارموتر نظامی راتخریب ویازده صاحب منصب رژیم کابل اسیرنمودند درگزارش که قوماندان اسمعیل خان اخیراً انتشار داده ضمن نشرمطلب فوق امده است که مجاهدین برعلاوه چهل میل اسلحه سبك وثقیل مهمات زیاد رانیز ازپوسته مفتوحه بدست اورده اند صاحب منصبان اسیرشده همه مربوط گاردخاص رژیم بودند که قوای مربوط به وزارت امنیت دولتی یا دستگاه جاسوسی رژیم کابل است درین عملیات به جانب مجاهدین هیچگونه اسیبی واردنیامده است.

دهجرت په ...

تندی زغمل .

دامن اوامان په داړه فضاکی ژوندورته دیو داسی غروراحساس وربخښلی ؤچی هغه ډول ډول حوادثو هم نشو ماتولی اونه یی چا په ځیره کی دغم او درد نخښی محسوسولی شوی .

دوخت په تیریدو او دحالاتو په بدلیدو چی یوناڅاپه دامن او امان داډه منه فضاګډه وډه شوه ،دالحاد او فساد علمبردارانو دنورو په ملاتړ دغلامانه قدرت واګی تر لاسه کړی اوپر ټول هیواددظلم توره شپه جوړه شوه .

دهر مؤمن پرعقیده ،ناموس ،سراو مال دتیری ګواښ او خطر احساس شو.

هغوی اوس دخپل ناموس دخوندی کولو ، دالحاد ،فساد پر ضد مقابلی او مقاومت ته دچمتووالی په خاطر دیوی سختی الهی ازموینی په ډګرکی واقع شوی وو اود الهی حکم دتعمیل په خاطر یی دهجرت په ستونزوره لاره دتللو تکل وکړ.

پرتوله لاره یی کله دمین او کمین تهدید او کله یی بیاهیواد تر پولو دالوتکو دبمباری او توپونو دډزو په بدرګه کی دخپلو کورنیود غړیو اوخپلوخپلوانو دمرګ ژوبلی صحنی هم ولیدی خوددوی په اراده کی یی بدلون رانه وست .

دهجرت په دیار کی یی دبناراو آبادی نه وړاندی په وچو او سوځنده دښتو کی د خدای(ج) هیلی ته واړول دژمی یخنی او داوړی سوځنده لمر یی وجود وځپه خو چی دکوم ستر هدف او مسوولیت دسرته رسولو په هیله راوتلی وو هغه یی هیرنه کړ چاددښمن پرضد د جهاد او مقاومت سنګرونه پیاوړی کړل او ځوك دخپلی کورنۍ سرپرستی ته پاتی شو ل.

دهجرت په چاپیریال کی یی هم دپردیو له نوکرانو نه ډیری ستوغی سپوری واوریدلی ، چایی دنورو په اشاره او لمسون د تنګولو او ځورولو هڅی وکړی او چا یوه او بلی خوا پوری واهه دراشن دکماندانو باټوګانو او دکیمپ دملکانو نه یی هم ډیری ترخی خاطری دخپل ذهن په دفتر کی ثبت کړی .ویی لیدل چی چا پری پېیوه او چاپه بله بنه تجارت نښلولی دی .که داسلامی ورورولۍ په خاطر یی چا څه برخه وکړه او که دبشر ی خواخوږۍ په نوم ورته چاڅه راولیږل هرچا تری پرلاره خپله ونډه بیله کړه دی پری یادشو خو بناد نه.

ځوك یی دیو ه هدف او ځوك یی دبل هدف لپاره دغمخوارۍ دعوه کوي ، خو هیچایی په څپلو کی دریغ نه دی کړی .

که چایی له دښمن سره دسازش له مخی دبرخلیك فیصلی کړی او که چایی یوه او بل ته دمیشت او کوچ ماك سپارلی ، دهرچا نیتونه ورته معلوم دی .

خوددوی چی پر خدای (ج) توکل ؤ اودی دهغو او دغو فیصلی یی په هوډکی بدلون نشی راوستلای .

دخدای (ج) په نصرت او دخپلی سربښندنی او قربانۍ په نتیجه کی دخپل هدف سرمنزل ته درسیدو په درشل کی دی نن سبا به یی هغه ستره هیلههم ترسره شی چی دوی دهغی لپاره دادومره ستونزی اوکړاوونه وزغمل.

دعراق اوکویت دشخړي تاریخي پس منظر ...

اوسعودی عربستان سره مشخصی کړی دکویټ سره به هم پدی توګه دسرحدی پولی دستونزو حل کولو ته کینی اوددوی مرستی اواحسان به یی سترګو ته ودریږی اودخپلو پخوانیو غوښتنو نه به تیر شی دکویټ له خوا دسرحدی اختلاف دحل کولو داصرارپه ځواب کی لومړی رسمی ځواب دایران اوعراق ترمنځ داوربند نه خو ورځی دمخه داسی ورکړلی شو چی دجنګ دپای ته رسیدو وروسته به ددواړو هیوادونو ترمنځ پوله مشخصه کړای شی ددی نظر داظهارولو وروسته دصدام مرستیال طه محی الدین معروف اودعراق دبهرنیو چاروزیر طارق عزیز دکویټ سره دسرحدی شخړی دحل خبر اوزیری دخپلو ځانګړو خبرو له لاری دکویټی مسولینو غوږونو ته ورسولو

کویټ تل هڅه کوله چی دعراق سره دډیرو نږدی اړیکو ساتلونه اعظمی استفاده وکړی د(۱۹۸۹) کال په فبروری کی یی سعد-العبداله الصباح دکویټ صدراعظم عراق ته ولیږلو دعراقی حاکمانو درضایت په خاطرچی داقتصادی فشارونو اوبهرنیو پورونو تردرانه بارلاندی راغلی وه . دکویټی مطبوعاتو له لاری چی تقریباً ټول یی دکویټ دحاکم دولت دلید منعکس کونکی وه دکویټ اوعراق ترمنځ دسرحدی لیکی په مشخصی کولو سره ددواړو هیوادونو داقتصادی ودی اوهمکاری زمینه مطرح کړه . شیخ سعدالعبداله الصباح له بغداد ته په خپله کتنه کی دخپل هیواد له لوری عراق ته دډیروسخاوتمندانه اقتصادی مرستو پیشنهاونه وړاندی کړل ترڅو دعراق د ویجاړاقتصادی حالت دبیا جوړلو په پروګرام کی دغتوکویتی موسسو په ګډون سره دصدام رژیم دسرحدی شخړی حل ته تشویق کړی .

. کویټ تل هڅه کوله چی دعراق په راضی ساتلو سره نه یوازی ددی هیواد شمالی برخی چی عراق یی دمالکیت دعواکوله ترخپل تسلط لاندی وساتی بلکه دعمرانی پروژو په پیل کولو سره لکه دسوبیا پل چی دیرش کیلومتره اوږدوالی لری اودکویټ پایتحت دسوبیا ښارسره چی بنایی په راتلونکی کی اباد شی یوځای کوی خپل مالکیت پردی سیمو باندی تثبیت کړی په هرحال کویټ دټولو خوشامندو او هلو ځلو سربیره ونه توانیدو چی دعراق سره خپل سرحدی اختلاف حل کاندی دعراق رژیم سرحدی پولی دتثبیتولو مسله د مخالفت اوکله کله هم دځینو مانوررونو په لاری اچولو سره وروسته غورځوله اوځندوله ترڅو پدی وروستیو ورځوکی صدام حسین هم هغه پخوانی ارمان ته درسیدو په منظورپر کویټ باندی نظامی یرغل وکړو اوهغه یی دخپل هیواد یوه برخه اعلان کړه .

داچی دغه بحران به ترکومه حده پر اختیا مومی اوپه راتلونکی کی به څه پیښیږی دمسلمان ملت دستردښمن اودصهیونستانودکلك ملاتړکونکی امریکا دمکارانه سیاستونو په وړاندی د اسلامی امت په هوښیارتیا اویووالی پوری اړه لری .

ناتمامه کیسه...

دژوند ترانی اودهوسونونغمی وی له دغه خپینودیوالونونه به دخنداګانوکړس کړس غرونه راغبرګیدل اودخدای (ج) په لایتناهی فضاکی به ورکیدل یوکورګی ؤ ،یوه اباده مینه وه اویوه خوشحاله کورنی اوسیده یوپلار اومورله دووزامنو اودری لونوسره یوځای دژوند هسکو تیټو ته تېر سپر کړی ؤ اوخدای (ج) شته چی بیاهم دخوښی اوخوشحالی زور یی ؤ خو پوره څلورکاله وشول چی دډیرو نوروکورونو په خیر په دغه جونګړه هم دوحشت او ویر دیوخپل توراوهیبتناك وزرونه وغوړول.

په یوه روڼه رناورځ له پاسه دری څلورجازونه راغلل اوبیا یی دخوښیو پرمینودغم درانه درانه بونه راخوشی کړل ، طیاری دسترګو په رپ کی بیرته ولاړی ورکی شوی خونوړیه دغه جونګړه کی دخوښیو شیبی اودهوس ننداری هم دتل لپاره ورکی شوی ، لکه چی نوردغه کاله دخوښی حق نه درلود لکه چی نوریی دخوشحالی له نعمت نه خپل وروستی پند هم تړلی ؤ. دخوښیو له قافلی سره له دی کلا نه شپږ غبرګی جنازی کتار شوی اوپه پاس ادیره کی په یوه کتاریودبل ترڅنګ ترخاوری لاندی شوی جنازی ولاړی خوژوند یوته یی یو یادګارپریښود یونازولی یادګار، داسی چی دژوند پر حریم دمرګ دیرغل دځوروونکوننداروترټولو بنه یادګاروی اوښه یی انځورکړای شی .

اوس دعمر خوړلی دروازی ترڅنګ یوه دهمدغسی دروازی همزولی بوډۍ ناسته وی ، په تندی اومخ یی دخپل نصیب نقشه ده دخپل خوارقسمت اوغم لړلی برخی تصویراودا په خپل قسمت اوښکی تویوی ، هغه له چانه ګیله منه ده؟ له خپل قسمت نه دهغی په ساده زړه کی همدغی یوی خبری ځای نیولی چی قسمت یی خراب دی برخه یی خواره ده اونصیب یی شوم دی . که نه ددی خودژوند په خوروهم حلق لوند اوخوله خوږه وه ، خوداهر څه دسترګو په رپ کی تری ولاړل.

بوډی توله ورځ دلمر تودو وړانګو ته ناسته وی ته به وایی خپل دزړه زخمونه وړاندی تکوروی اومازدیګرورو وروراولاړه شی دزړه په زورترزړه دروازه دننه په کومه توره خونه ورننوزی ، هغی ته اوس دوه ساښته یوه خپرمړی له کلی نه په تیاره راځی ، خو چی څه وخت به یی دقسمت دغه برخه هم تمامه شی څه وخت به دغه دیوی دردناکی حادثی ځوروونکی یادګارنوردآرام اوسکون لاره خپلوی ؟!

اوڅه وخت به دظلم اووحشت دغه ناتمامه کیسه پای ته رسیږی ؟! یوازی یوخدای (ج) پوهیږی اوبس

دعراق اوکویټ دشخړی تاریخی پس منظر

وحیدالدین ، صدیقی

پدی ورځو کی دنړیوالو مهمو پیښوترڅنگ دنړی دورځپانو اومجلو سرلیکونه اوغټ عنوانونه پر کویټ باندی دعراقی پوځونو له خوا دتیری اویرغل مسله تشکیلوی .

هغه تیری چی دروان عیسوی کال داگست په دوهمی دپنجشنبی دورځی دسهار په لومړیو شیبو کی دیو لړمخکنیو تجدیدونو په تعقیب خپل پوځونه دکویټ له تیلودکی خاوری ته وردننه کړل اودغه کوچنی خپلواک عربی هیوادیی دڅو ساعتونو په اوږدو کی ونیولو .دصدام حسین له خوا په عراق پوری دکویټ دانظمام او تړلو بی بنسټه

عراق په اویاومه لسیزه کي دکویټ په شمالي پراخو سیمو باندي ددوستراتیژیکو جزیرو وربه اوبوبیان په گډون دملکیت دادعاطرحه رامنځ ته کړه . چی دغه ادعاددواړو هیوادونو داړیکو ترمنځ دبحران دراپیدا کیدو سبب وگرځیدله

بی شرمانه او غیرقانونی نی تصمیم دنړی په معاصر تاریخ کی یو بله دفکر وړ پیښه بللی شوو .دغه واقعیت چی صدام ځان له اجازه ورکوی چی دیو بل خپلواک پیژندل شوی هیواد خاوره دخپل هیواد جزوگرځوی . دهغی خپل سری او گډودی علامی بلل کیږی چی په ننی نړی باندی حاکمیت کوی . خبره پدی کی نده چی ایا دکویټ نوم به دنړی له سیاسی نقشی نه محوه شی او کنه ؟ دایو ناممکن کار دی ځکه چی په افغانستان کی ددی موضوع اصلی حقیقت نړیوالو او ټولو کبرجنو غاصبانو ته په ښه توگه ځرگندشوی دی خو هغه موضوع چی د ډیراهمیت وړ گڼل کیږی داده چی ځرنگه آیو دیکتاتو ر ځان له جرات ورکوی او رسماً اعلانوی چی پلانکی خپلواک هیواد یی دخپل هیواد په خاوری پوری وتړلو .

ددغه سپین سترگی عمل جرړی (ریښی او ولی) باید په هغه متعددو تجاوزونو کی ولټوو کوم چی دنړی دمسلط نظامی او صنعتی سوپر قدرتونو له خواسرته رسیدلی او یا رسیږی .

په افغانستان باندی دشوروی بیشرمانه عمل او ماتی ،او دهغی نه پخوا پروینتنام او ځینو نورو هیوادونو باندی دامریکا بیانو نیغ په نیغه تیری زمونږ ددی مدعا ژوندی ثبوتونه دي.

هغه تجاوزاودغه سپین سترگی ظاهراً بیلی خوپه ماهیت کی هغه دردونکی ،یده واحده پیښه ده چی نړیوالو ، خصوصاً اسلامی نړی ته دلابدی راتلونکی وضعی خبرداری ورکوی .

دعراق رژیم دتیری لسیزی په اوږدو کی عموماً خوعمده هدفونه تعقیبول . پر ایران باندی برتری دخلیج دسیمی ژانـــدارم یعـــنی دایران دپخوانی شاهی رژیم دنده اودعربی نړی رهبری اومشری چی البته دغه هدفونه یوله بل سره ارگانیکی اومنظمی اړیکی لری اوپر له پسی توگه دعملی کیدو پر حال کی ښکاری . یعنی پر ایران باندی دلاس بری اوبرتری نه سوا عراق نشی کولای دفارس دخلیج په سیمه مسلط شی .اودفارس دخلیج پر سیمه باندی دتسلط پر ته نه . په عربی ملت باندی خپله مشری اورهبری ونشی منلای ، تقریباً ډیره موده کیږی چی صدام دی ارمان ته درسیدو په هیله هلی ځلی کوی . دعراق اوایران جگړه پداسی توگه پای ته ورسیده چی که څه هم دصدام رژیم داتوکالو جگړی په موده کی خوله ماتی ته نږدی شوی وو اوس هم دسختو اقتصادی ستونزو اودرنو پورنو لاندی ساه اوباسی . خوددی سربیره بیا هم داسی تصورکوی چی په ایران باندی یی لازم بری ترلاسه کړی دی نوځکه باید ددوهم هدف پر لورچی دفارس دخلیج پر منطقی باندی تسلط دی گام پورته کړی .

دکویټ نیول یی له شکه باید دعراق ددوهم ستراتیژیک هدف پر لورعمده اوتاکونکی توپ وگڼل شی .

که څه هم هر مبصر په وارسره دغه پیښه له خپل ځانگړی لید نه تعبیر کړی ده څوک یی دصدام دخودخواهی اوکبر نښه بولی اوڅوک یی دعراق په غاړه دزیاتو پوروونو نه دخلاصی علامه .

خوخیر دغه پیښه چی اوس دخلیج پر منطقه کی نوی منځ ته راغلی اودمنځنی ختیځ ټوله سیمه او هیوادونه یی دپراخ اوشدید بحران سره مخامخ کړی دی بیا هم دزمانی لحاظ دخپل تازه والی سره سره په منطقه کی زړی اوپخوانی جرړی هم لری .

دعثمانی پاچاهی له ړنگیدو سره جوښت دعراق دنوی شاهی حکومت نظر هیڅکله هم دکویټ له تیلو دکی سیمی نه لری نشو اوتل یی دهغی ځارنه کوله او په ۱۹۳۳کال کی ددی خبری پر استناد چی کویټ په تیره زمانه کی بصری پوری تړلی سیمه وه هغه یی دخپلی خاوری یوه برخه اعلان کړه .

په (۱۹۵۸) کال کی دعبدالکریم قاسم په رهبری دعراق دشاهی رژیم دمنځه وړلو اودهغه پـــر ځـــای دکـــمونیستی جمـــهوریت داعلانولو وروسته دعراق په سیاست کی یو ظاهری بدلون خصوصاً دکویټ اړونده رامنځ ته شو .ددی بدلون لومړنی نښی په (۱۹۶۱) کا ل کی دکویټ دخپلواکی داعلانولو وروسته راڅرگندی شوی اوپر هغی کی عبدالکریم قاسم دعراق دوخت صدراعظم دکویټ دموجودیت اعلانولو سره پر ځرگنده مخالفت وکړو اوهغه یی دعراق دخاوری دیوی برخی په نامه یادکړو . وروسته تردی عبدالکریم قاسم دعراق دپوځونو څو لښکری ددواړو هیوادونو سرحد ته واستولی .

خو دعربی هیوادو اودمصر جمهوررئس جمال ناصر مداخله اوفشارونو دعراقی پوځونو په واسطه دکویټ له نیولو نه مخ نیوی وکړ . اوددواړو هیوادونو پولو کی دعربی ساتونکی پوځ ځای پر ځای کیدلو دغه شخړه په موقتی توگه له منځه یووړه .

دعبدالکریم قاسم درژیم درانسکوریدو وروسته په (۱۹۶۳) کال کی دعبدالسلام عارف درژیم له خوا دکویټ په رسمیت پیژندلو سره سره بیا هم ددی هیوادونو ترمنځ اړیکی په ناهرابرحالت کی پاتی شوی .

ددی هیوادونو دسرحدی بحران دحل لپاره ډیره هلی ځلی سرته ورسیدلی چی اول ځل په (۱۹٦٤) کال کی دعراق دهغه وخت صدراعظم احمد حسن البکر په مشری دلوړصلاحیت لرونکی هیت په تللو سره پیل شوی خو دکویتی مسولینو سره ددی هیت دمذاکراتو پر لړ کی دشدید مخالفتونو درامنځ ته کیدو په وجه بیاهم دغه سرحدی شخړه پای ته ونه رسیده .

دعراق اوکویټ ترمنځ داختلاف ورمسایل یوازی سرحدی مخالفت نه وواوندی ویلی شوچی ددواړو هیوادونو ترمنځ سرحدی لیکه په کلی توگه مشخصه شوی اوټاکل شوی ده دهغی په نظرکی نه نیول به مقابل اړخ باندی دسیاسی اومالی فشار اوباج اخیستنی په هدف په پر له پسی توگه دوام درلودودعراق اوکویټ اړیکی تراوسه پوری دزیاتو بهرانونو نه له لوړو ژورونه راوتلی اوتردی حده رارسیدلی کویټ پر بغداد باندی دحاکم سیاسی نظام دنه پایښت په دلیل اودپر له پسی کودتاوویه علت د سرحدی داختلاف دحل لپاره

خبره پدي کي نده چي آیا دکویټ نوم به دنړۍ له سیاسي نقشي نه محوه شي اوکنه ؟ دایو ناممکن کاردي ځکه چي : په افغانستان کي ددي موضوع اصلي حقیقت نړیوالو اوټولو کبرجنو غاصبانو ته په ښه توگه ځرگند شوي دي خو هغه موضوع چي ډیر اهمیت ورگڼل کیږي داده چي ځرنگه یو دیکتاتورځان له جرأت ورکوي اورسماً اعلانوي چي فلانکي خپلواک هیواد بي دخپل هیواد په خاوري پوري وتړلو ۔

جدی اونه ستړی کیدونکی هلی ځلی سرته رسولی دی .

عراق اویا ومه لسیزه کی دکویټ په شمالی پراخو سیمو باندی ددوستراتیژیکو جزیرو وربه اوبوبیان په گډون د ملکیت دادعا طرحه رامنځ ته کړه . چی دغه ادعا ددواړو هیوادونو داړیکو ترمنځ د بحران دراپیداکیدو سبب وگرځیدله .

ځکه چی دبوبیان جزیره دکویټ له ساحل نه په ډیره کمه فاصله کی موقیعت لری . اوپدی جزیره کی دبل هیواد دنظامی قوتونو حضوردکویټ دامنیت تر تحدید لاندی راوستلو معنی ورکوی .

په اتیاومه لسیزه په منطقه کی دځینو سیاسی پیښو : لکه ایران کی داسلامی انقلاب دبری اونوروپیښو دمنځ ته راتلو په سبب دعراق رژیم په موقتی توگه له خپلو پخوانیو ادعا- گانو څخه صرف نظر وکړاوددی - هیوادونوترمنځ د سرحدی اختلاف حل یی ، عراق ته ددی دوو جزیرو په اجازه ورکولو پوری مشرط وگڼلو

دکویټ دجزیرو په اجاره ورکولو دطرحی څخه سیاسی اومطبوعاتی محفلونوته لاره پیدا کړه دایران حکومت مسوولینو دهغی په وړاندی سخت عکس العمل ښکاره کړ چی دی موضوع دکویټ دولت مسولین د(۱۹۸۹)کال په اتمه میاشت کی ددی ربوټونو تکذیبولو ته اړکړه اوپورتنی حل لاره یی پدی د توگه نفی کړه .

دعراقی رژیم نظارت اوڅارنی گڼبنی مسولین په دایمی ویری اودارکی واچول اودصدام پر له پسی پیغامونواوانفجاراتوپه دقیقه توگه ددوی اندیښنه لاپسی زیاته کړه دایران په وړاندی ددی هیوادجگړی دکویت دولت مسولینو اوشیخانوته فرصت په لاس ورکړو ترڅو دعراق سره په نږدی کیدلو خپل سرحدی مشکلات یو خواته کړی .

کویټ عراق سره دنږدی والی اوهم پیمانی له لاری دایران پرضد جگړی کی هڅه وکړه دعراق مشران پدی قانع کړی چی کویټ کولای شی دیوه دوست هم ترونه اوبی قید وشرط مرستی کونکی په توگه په دعراق پر گټه ښه اوټاکونکی رول ولوبوی .

دغه سیاست دجنگ اوردکویټ خاوری اوساحل ته ورسولو مگر بیا هم دکویټ مسولینو په ډیر احتیاط سره ددی جنگ له خطر نه ځان وژغورلو کویټ هیله درلوده چی دجگړی داقتصادی اوسیاسی ستونزو دروند بار په عراق کی ددی سبب گرځیدلی وی هغسی چی دی هیواد خپلی سرحدی لیکی داردن

په (۵)مخ کی

دفلسطینیانو پر خلاف دامریکا او اسرائیلو خطرناک سازش

دوه نیم کاله کیږی چی داردن دسیند په نیول شوی لویدیځه څنډه اودغزه په سیمه کی دیوه خپلو اک فلسطینی رياست دجوړولو لپاره دانتفاضه غورځنګ هلی ځلی کوی ، د۱۹۸۷په دسمبر کی دغه غورځنګ پیل شوخوهیڅچا باورنه کاوه چی هغه به په دی موده کی هومره ستړېر مختګونه وکړی ،ددی غورځنګ دڅپو تاند ساتلو لپاره دنیول شوی فلسطین ځوانانو ډیری قیمتی قربانۍ وړاندی کړی دی کله چی غورځنګ پیل شو نوخلکو ګومان کاوه چی اسرائیلی حکومت به یی ډیر قابو کړی ، اسرائیلیانو هم په لومړی سر کی دغورځنګ دځپلو لپاره بیشانه زورزیاتی ته لاس کړ او تراوسه پوری یی دوام ورکړی ، اسرائیلی حکومت دغه غورځنګ ددوه اړخیز منظم پروګرام له مخی ترفشار لاندی نیولی ، له یوی خوا دصهیونستی بین المللی خبری شبکو له لاری پر غورځنګ دداړه مارانو اوترورستانو ټاپی لکوی ترڅو انتفاضه تحریك دبهرنی نړۍ له مرستو نه محروم وساتی له بلی خوا په دغه غورځنګ کی دبرخه والو دویرولو لپاره له اوبنکی بهوونکی ګازڅخه نیولی تر ګولیو چلولوپوری ټولی وسلی یی دریغه په کاروی . په نیول شویو سیمو کی دخلکو دمورال دراټیټولو لپاره یی خلکو ته دمالی زیانونو اړولو پالیسی غوره کړی ، دآزادۍ اوخپلواکۍ غوښتونکو کسانوکورونه ویجاړوی هغوی له کار اوکسب څخه لیری کوی خو ددی ټول ظلم ، تیری اوناروا سره سره داسرائیلو حکومت تراوسه پوری دانتفاضه تحریك په ځپلوکی پاتی راغلی ، له ۱۹۸۷دسمبر څخه ترننه پوری دانتفاضه غورځنګ غړوته لاندنی زیانونه وراړول شوی دی :

ټول شهیدان ۱۰۵۰کسه .

له ۱٦کلن څخه کوچنی شهیدان ۱۸۸تنه .

تورسری شهیدانې ۷٤تنه .

ټپی شوی کسان ۷۰۰۰۰تنه .

بندی شوی کسان ۹۰۰۰۰تنه .

هغه کورونه چی اسرائیلی پوځو نو وران کړی دی ۱۰۷۲ .

د۱۹٦۵جنوری په لومړۍ نیټه دالفتح سازمان داسرائیلو پرخلاف منظم جهادپیل کړ ، له هغه ورځی نه ترننه دفلسطین دآزادۍ غورځنګ له ډیرو هسکو ټیټوڅخه تیرشویدی ، پر هغوی نه یوازی اسرائیلو هر رازوحشیانه یرغلونه او ګوزارونه کړی بلکی خپلو مسلمانو وروڼو هم په واروارد‌غه غورځنګ دتباهۍ اوبربادۍ پر پوله درولی ، د۱۹۷۰کال په سپتمبر کی داردن پاچاحسین په خپل هیواد کی دفلسطینیانو دله منځه وړلولپاره هغوی بی دریغه قتل عام کړل اوترډیری زرو تنو نه زیات فلسطینیان یی په شهادت ورسول ، له دی نه وروسته په ختیځ بیروت کی دسوریی پوځونو د«تل الزعتار» دمهاجرینو په کیمپ کی په زرګونوتنه فلسطینیان شهیدان کړل

> بیروت ته نږدي فلانژستانو«عیسوي ملیشیا»داسرائیلي پوځونوترحمایي لاندي د«صبرا»او«شاتیلا»پرفلسطینيَ کمپونو باندي یرغل وکړاوترپنځوویشت زرونارینه ،تورسر،ماشومانو اوبوډاګانو پوري یي له یوي مخي شهیدان کړل

همدارنګه په ۱۹۸۲کی چی کله «شمعون» داسرائیلو دهغه وخت صدراعظم په امراسرائیلی پوځونو له لبنان نه دفلسطینیانو دریښو ورکولو لپاره په دغه هیواد یرغل وکړ نوبیروت ته نږدی فلانژیزستانو «عیسوی ملیشیا» داسرائیلی پوځونو ترحمایی لاندی د «صبرا»او«شاتیلا» پر فلسطینی کمپونو باندی یرغل وکړ اوتر پنځه ویشت زرو نارینه ، تورسریو ، ماشومانو اوبوډاګانو پوری یی له یوی مخی شهیدان کړل ، دافسوس خبره داده چی په دغه وخت کی دسوریی پوځونه په لبنان کی ووخو داسرائیلی پوځونو پردغه جنایتونویی هیڅ شوروږنه خوړاوچوپ تماشی ته ولاړوو تردی چی د فلسطین آزادی غوښتونکی له لبنان نه ووتل دفلسطین دآزادۍ غورځنګ چی له لبنان نه بهر شو ددغه سازمان دپالیسی اوتګلاری دبدلیدو سبب شو ، ځکه ترڅو پوری ټولی عربی نړۍ مرسته نه وای ورسره کړی هغوی یوازی له اسرائیلو سره ډغری نه شو ای وهلی اونه یی په وسله واله مبارزه له اسرائیلو نه خپلی لاندی شوی ځمکی بیرته اخستلای شوای - دفلسطین دربړی دحل په رابطه دعربو پرسړه وضعه سربیره دامریکاکړنلاره هم دفلسطین دآزادی غورځنګ دپالیسی په بدلون کی لاس درلود ، امریکا دفلسطین دآزادی غورځنګته اهمیت ورکولو ته تر هغه وخته پوری نه ؤ تیارترکومه چی دغه غورځنګ ددوی په اصطلاح له ویری اچونی اوتروریزم نه لاس نه ؤ اخستی په هرصورت فلسطینیانو ته دوسله والی مبارزی په لاره کی ډیر خنډونه راپیداشول اوډیرعوامل وو چی ورو وروددغه غورځنګ څپی سړی شوی خو دغه څپی یوځل بیا په داسی زوراوشوررا ژوندۍ اوتوپانی شوی چی نن اسرائیل له خپل ټول وحشت اوداراچونی سره سره دهغوی په راقابوکولو کی ناکام ښکاری .

«نوربیا»

دافغانستان ...

تشخص اوناپیلي دریځ برقرارپاتي شي سیمه‌یز امن په پام کي ونیول شي اودهغي تضمین وکړاي شي اودهغه سیاسي ازادي ته بشپړ احترام وشي ،خوددي مطلب لپاره هلته دداسي حکومت جوړیدل ضروري دي چي په پورتنیو اهدافو نه یوازي باوورلري بلکه دهغي دلاسته راوړلو لپاره هلي ځلي اوعملي اقدام وکړي اوددغه حکومت په وخت کي افغان ولس دخپل برخلیك په باب یي له ویري خپله رایه ښکاره کړاي شي .

ښکاره خبره ده چي داحق دنجیب رژیم ته نشي ورکول کیداي ، که څه هم دانتقالي دوري لپاره دملګرو ملتونو ترڅارني لاندي پورتنیو اهدافو ته درسیدو په خاطر دمجاهدینوعبوري حکومت فعال رول لوبولي شي خو روسان دنجیب دړژیم له منځه وړلو ته نه دي حاضر شوي دغه کار دجینوا معاهدي په وخت کي ښه ترسره کیداي شواي ځکه روسان دخپلو پوځونو دبا عزته بیرته ستنیدو ته بي تابه وو، دملګرو ملتونوسرمنشي پریزدیکویاراوسنۍ پریکړه لیك دافغانستان دمسئلي یومعقول حل ښودلي اوځینو مهمو اوبنیادي ټکو ته یي اشاره کړي هغه ویلي چي یوه بشپړ حل ته درسیدو لپاره په ملي اوبین المللي سطحه دنظر یووالي ته ضرورت دي ددغه عمومي یووالي ترټولو لومړي اوبنیادي اصل باید داوي چي افغان ولس ته باید دخپل برخلیك په ټاکلو کي بشپړه آزادي حاصله شي اوددغي حق داستعمال لپاره باید یوه توانمنه اداره جوړه شي چي دهغي په چوکاټ کي افغان ولس په خپله خوښه اوپوره آزادي دراتلونکي حکومت په باب خپله رایه ورکړي ددي لاري په انتخاب کي باید دافغانانوپخوانۍ روایات په نظرکي ونیول شي .

دښاغلي دکویار له دي دریځ سره دمخالفت څه مجال نشته داهماغه دریځ دي چي پاکستان اوافغان مجاهدینو هم اختیارکړی ؤ ، ښکاره خبره ده که دنجیب دړژیم په موجودیت کی انتخابات ترسره شي دکوئیاردد ریځ یواړخ هم نه بشپړ کیږی -نوځکه دکوئیاردنظر عملی کولو لپاره هم لازمه داده چی لومړی دنجیب رژیم له منځه ولاړشی ، داخبره اوس هم سمه ده چی دافغانستان دربړی دحل کلی له روسانو سره ده که روس دنجیب له مزدوررژیم نه لاس پرسرشی نو مجاهدینو ته به داورېند په لارکی هیڅ خنډ نه وی پاتی شوی .

نجیب ...دروس اوامریکا

نجیب کوم چي اوس دګرباچوف دنوي سیاست په وجه دامریکا ددوستي تیږي په سینه وهي نوردامریکائیانولخوادغیرقابل قبول فکتورپه حیث ونه بیژندل شي ،لکه څنګه چي څه موده مخکي امریکا په ډاګه دااعلان کړه چي دانتقالي دوري دپاره دنجیب دحاکمیت منلوته تیاردي اوس داخبره افشاشوي چي امریکایانودانتقالي دوري دپاره اودانتخاباتو دترسره کیدوپه دوران کي دنجیب حکومت منلي ؤ اوپه دي باب دروسانوسره موافقی ته رسیدلي ؤ خو په پاکستان کي دحکومت تبدیلي اودخلیج کړکیچ ددي باعث شول چي دغه پلان شنډ شي نوددي څخه نتیجه اخیستلي شو چي دافغانستان مسٔله چي څومره ځنډیږي هومره دنجیب په ګټه اودمجاهدینو په تاوان تمامیږي ، ځکه نه امریکا نوره نړي نجیب ته په هغه سترګه نه ګوري کوم چي ، اتحاد، اواخلاص دخپل جهاد افغانان ورته ګوري ، دافغانستان دمسٔلي په حل کي ځنډ نړیوالوته داسي توجیه کیږي چي ګواکي مجاهدین په کومه طرحه توافق نشي سره کولاي اوسربیره پردي دنظامي لحاظه دنجیب قوت په دي اندازه دي چي دځان دساتلو استعدادلري.

امریکاهم چي دمجاهدینو داسلامي حکومت په تناسب دنجیب سیکولرحکومت ته ترجیح ورکوي دهري شیبي څخه دخپل پلان دعملي کولوپه ګټه کاراخلي نواوس پر مجاهدینو باندي لازمه ده چي دخپل دوولس کلن جهاددهري شیبي نه په لاډیر جدیت سره ددغه کرغیړن حکومت دنسکوریدودپاره هلي ځلي پیل کړي خپلوعملیاتوته دکابل رژیم په ټولو مراکزو شدت ورښني ، نظم

اصول وګرځوي ، خپل منځي شخړي له نظره وغورځوي اوخپل ټول قوت صرف ددښمن راپرځولوته توجیه کړي ،ځکه چي دوخت له لاسه ورکول به صرف دمجاهدینو په زیان تمام شي .

واشنگتن یا ...

دنوامبر۲۶ مه نواي وقت : دامریکا متحده ایالاتو مرکزیه واشنگتن کي دزیاتو وژنو له امله له هغه نه «وژنتون »جورشویدي د۱۹۸۹کال په لومړیو پولسومیاشتو کي دومره زیاتي وژني شوي چي تردي دمخه بي هیڅ مثال نه لیدل کیږي - اوسرکال تراوسه پوري ٤٣٦ تنه وژل شویدي - چي دتیرکال دوه چنده دي نن سبا واشنگتن دوژنو اوقتل قتال ترڅپو لاندي راغلي ، او له ۱۹۸٦څخه تراوسه دنشه بي موادو داستعمال په وجه (۱۱٦٦۱) تنو ته رسیدلي همدارنگه دواشنگتن دښارټول نفوس (٦۱۷۰۰۰) ته رسیږي چي په دي حساب دامریکا ترهرښاردلته دقتل دپیښو اندازه زیاته ده .

ضربات کوبنده ...

هنگامی دوطیاره تخریب وانبارمهمات رژیم کمونست کابل حریق گردید که مجاهدین دلیر میدان هوایی قندهاررامحت آتش سلاحهای ثقیله قراردادند .

گزارشهای انتشاریافته درمطبوعات حاکی ازانست که مجاهدین بتاریخ ۲۸ عقرب ضمن وارد اوردن خسارات فوق طی این حمله سیزده صاحب منصب وعسکر را نیز درمیدان هوایی قندهار به هلاکت رسانیده اند . طیارات رژیم مناطق محله جات راشدیداً بمباردمان نمودند که ازاثران تعدادی ازمنازل مجاهدین تخریب ولی خساره جانی وارد نشده است.

طبق یک خبر دیگر قطارحکومت کابل که درمنطقه ریگستان قندهار متوقف مانده است باوجود تلاشهای رژیم ملحد بشمول بمباردمان شدید ومکررنتوانسته است خودرا به میدان هوایی قندهار برساند. مطابق خبرمذکورمجاهدین بعد ازحملات برین قطار نظامی رژیم (۲۵) عراده لاری وچارتانک راباِمحموله انها به غنیمت گرفته هفت عراده تانک وسیزده لاری ویک هلیکپتر راتخریب نمودند. درخبر امده است دردوران این حملات بیست مجاهد شهید ویامجروح شده اند.

دبگرام په ...

نیولي دي دیوه مخابروي رپوټ په حواله ویل کیږي چي مجاهدینو له تیروشپږوورځوراپه دي خوا دبگرام په هوایي میدان خپلي حملي جاري ساتلي همدارنگ مجاهدینو ددښمن یوه پوڅي دپیوهم له منځه وړي دراپورونو له مخي مجاهدینو په کندهار لوګر، پروان اووردګو کي ددښمن پر مرکزونو یرغل کړي دافغان آژانس په حواله ویل شوي چي دبگرام هوایي ډګر تراوسه پوري له کاره لویدلي .

همدارنگه مجاهدینو دکابل لویدیځ ته دللندریه غره ددښمن یوه مهمه پوسته فتحه کړي اواوس مجاهدین له هغه ځایه دکابل پر پوځي مرکزونو خپلو حملو ته دوام ورکوي دوروستیو رپوټونوپه حواله تراوسه توده جګړه روانه ده .

ملیشاي رژیم ...

ملیشای رشیددوستم وگلم جم برومال وناموس مردم تجاوزمی نمایند وهرانکه دربرابرانها مقاومت نشان دهد به قتل می رسانند .

این مطلب رامیدیا آژانس خبری حکومت مؤقت اسلامی افغانستان ازقول منابع جهادی گزارش نموده علاوه می کند که تمام افراد ملیشای مذکوربه چرس اعتیاد داشته ومصروف تجارت وقاچاق مواد مخدره میباشند .

بقول آژانس آنعده ازافراد دستگاه جاسوسی رژیم کابل (واد) که درمرز ولایات اجرای وظیفه مینمایند نیزبا آنها درین قاچاق همدست می باشند .

طبق گزارش مذکورافراد ملیشای مذکورکه وابسته به (واد) اند نوجوانان رابه هیروئین معتاد می سازند که بعداً همچو افراد دردستگاه جاسوسی رژیم (واد) جذب میشوند .

دهئیت تحریر ترنظرلاندي
مسوول مدیر: شهرت ننګیال
مرستیال : حیدمحي الدین هاشمي
مکاتباتي پته : پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
ټیلفون ....(٤۱۷٤٦)........

درشید دوستم دملیشه ...

دکابل دپغمان ولسوالي نه په رارسیدلوخبرونوکي ښرگنده شویده چي پدي وروستیو وختونوکي دپغمان دارغندي په سیمه کي دملحد رژیم دملیشه وویو قوماندان چي شریت خان نومیږي له خپلو (۳۲) تنو نوروملګرو سره مجاهدینو ته تسلیم شویدي .

دغه ملیشیان پخوادرشید دوستم ترقوماندي لاندي دجوزجان ولایت دسرپل ولسوالي دسیاده په کلي کي اوسیدل اودتسلیمیدو څخه لس ورځي مخکي له هغه ځایه کابل ته اوله کابل نه پغمان ته دمجاهدینو سره دجګړي لپاره لیږل شوي و .

نوموړي ملیشیان دارغندي په سیمه کي دقوماندان شیربازقرارګاه ته تللي اوځانونه یي پخپله خوښه مجاهدینو ته تسلیم کړي دي اودایي ویلي چي لدي وروسته به وسله پرڅمکه یدي اودکابل رژیم په خواکي به دهیواد اوولس پر خلاف کاراوفعالیت نکوی.

مجاهدین دو ...

خسیگ تاحصص غرب شهرغزنی امتدادیافته بود همه به تصرف مجاهدین درامدند .

درین گزارش که بتاریخ ۲٤عقرب انتشار یافته همچنان امده است به تعداد (۱٤۰) نفرازافراد دشمن اسیر مجاهدین شده ومقدار بزرگ سلاح بشمول چند پایه هاوان راکت انداز ها پیکا، هفت دستگاه بزرگ وکوچک مخابره یکصد وشصت میل اسلحه خفیف وغیره اسلحه ومهمات بدست مجاهدین افتاده است .

درین گزارش تاکید شده است که عملیات همچنان باوسعت وشدت بیشتر در شهر واطراف شهر غزنی ادامه دارد .

په کشمیر ...

دوګره شاهي ډیلوئنیبودله منځه وړلو پریکړه وشوه او وروسته له دی د اس - ایم - ایچ -اس روغتون دقاید اعظم محمد علی جناح په روغتون ونومول شو اود اس - ام - جي -اس دجمو شفاخانه دچودري غلام عباس په نوم په سرینګر کی دهري سنګ لویه جاده دشهیداشفاق مجید په نوم ، ونومول شوی . همدارنګه داس ، پي کالج په جګرن قیوم کالج ، سنګ کالج په صوفی اکبر کالج اوپیل کالج په مولوي یوسف کالج باندي ونومول شول اوله دی نه وروسته له داس ، پی کتابتون اوموزیم دشهید عبدالله بانګرو په موزیم اوکتابتون یاد شی ، دحزب المجاهدین ګوند په دغه غونډه کی دکشمیر دسرینګر دپر بنکلی پارک دهرتاپ پارک ، دشهید ضیاالحق پارک په نوم ونومول شو ، دغه ګوند دکشمیر په ولس غږ کړی چی نورپورتني ځایونه داعلان شویو نومونو په نامه وپیژني .

دهماهنگو سرتاسري عملیاتو ...

هیوادکي د کفر او کمونیزم پرمرکزونو باندي دمجاهدینو پراخ او پاخه ګوزارونه او ژنیوته د کابل دمزدور رژیم مشر نجیب ناڅاپي،خوناکام سفر داسي پیښي دي چي‌له یوي خوا یي دنړیوالو خبري منابعو او اړوندسیاسي محافلو پام ځان ته اړولي او له بله پلوه يي زمونږدمجاهد ولس دوګړي وګړي په زړونکي یوځل بیاډخپل مستقبل په باب د امید سپر مغي ځلول،له یوي خوا د هیواد په ګوټ ګوټ کي یو ځل بیا جهادي قافلي په ډیر شورا او زور دایمان په جذبه او وسله سنبال په حرکت راغلي په درست هیواد کي د کابل پر رژیم جهادي عملیاتو د مجاهدینو دسترو بریاوو په بدرګه جریان وموند له بله پلوه زمونږ د سیاسي مستقبل او روان حساس او نازک حالت په پام کي نیولو سره دجهاد مشران هم پریولي مسؤلانه مثبتو او انقلابي ګامونو اخستلو بریالي شول چي داټول زمونږ د مجاهد او په وینو لمبیدلي ولس دروښانه راتلونکي او نیکمرغه سباوون ضمانت کوي .

زمونږجهادي مشران له یوي مودي راهیسي په هغو څورونکي اودملت اوامت دارمانونواوغوښتنو پرخلاف بدمرغه اختلاف او نفاق ورروسته ،یوځل بیا دیووالي په تغر سره کیناستل دورورۍ لاسونه یي سره ورکړل اودخپل ګډ هدف په لوربي دګډو او شریکو اقداماتوپر عملي کولو توافق ته ورسیدل چي له یوه پلوه ددوي دغه حرکت له او بلي خوا په هیواد کي دجهادي فعالیتونو ګړندي کیدل اودرژیم پر خلاف پراخو عملیاتو وښوده چي دنجیب رژیم به ډیر ژرکه خداي (ج) کول له منځه ځي اوپه افغانستان کي به دمجاهدینو په لاس اسلامي او خپلواک حکومت جوړیږي .

خودابه هلته ممکن وي چي په پوره خلوص زمونږجهادي قیادت عملاً خپل اختلافونه شاته کړي دملت اوامت دارمانونو اوغوښتنو سره سم دورورۍ اووحدت جذبي اواسري راژوندۍ کړي ، په ګډه په سیاسي اونظامي مورچل کي دمزدوررژیم اونړیوال کفر مقابلي ته ملاوتړي ځکه هرڅومره چي زمونږجهادي حرکت زورنیسي په همغه اندازه یي په مقابل کي دنړیوال کفر ګډه جبهه هم دمقابلي او ناکامولو لپاره هڅي ګړندي کوي ، چي که یي په ګډه اویووالي مخه ونه نیول شي کیداي شي ځني طرفونه ددښمن په ګټه دملت دارمانونو پر خلاف استعمال شي او زمونږدمجاهدملت دولس کلني قربانۍ اودشهیدانو یو نیم ملیوني قافلي ټول حاصل اوثمر بیرته دپردیو په جیب کي ولویږي ، نوکه له یوي خواد نجیب دمزدوررژیم دراپرځیدو او په هیواد کي دخپلواک اوسوچه اسلامي نظام دجوړیدو لپاره سرتاسري هماهنګو شدید و جهادي عملیاتو ته ضرورت دي له بله پلوه په سیاسي جبهه کي زمونږ دجهادي قیادتونو پوره وحدت ، یووالي اودنړیوالو دسیسو په وړاندي پوره هوښیارۍ اوځیرکتیا ته دوخت ډیر مهم ضرورت دي ، که نه نو دیوي ګډي سیاسي جبهي دنه درلودلو په صورت کي زمونږ دیرمیال اوشهید پا ل ملت ټولي قربانۍ هیڅکله په زړه پوري اومثبته نتیجه نشي ورکولي .